Day:

# PART - II

## سوال نمبر 2:

## جواب:

### پښتو ژبه څومره زړه ده؟

پښتو ژبه دومره زړه ده څومره چې پښتانه زاړه دي ځکه چې دا د یوې قدیمې ژبې د قوم سره سره د دغو د ثقافتي اقدارو د مجموعي نوم دے په کوم چې پښتون تمام پیژندل شي۔ دا خبره به شکې نه وي چې پښتون څومره زوړ دے دومره پښتو هم زړه ده -

### دلائل:

لاندې ځینې دلائل دي چې دا ترې ثابته شي چې پښتو زرګونه کاله زړه ژبه ده -

1- قاضي عبدالحلیم اثر صیب د پښتو اکیډمۍ رساله (پښتو) ګڼې د لفظ "ار" په حقله خپل مضمون کې دا ثابته کړې ده چې پښتو اوه زره کاله زړه ژبه ده -

2- په اوستا کې د بخد په حواله د پښتون ذکر راغلی - "اوستا" کتاب په ۱۰۰۰ قبل مسیح کې لیکلی

Day: Date:

د نن نه دري زره څلور سوه کاله پخوا لیکل شوې ده.

3- ښاغلي عبدالحي حبیبي په خپله مقاله کې ډېرې څېړنې کړې دي - دغه مقاله په کال 1960 کې چاپ شوې ده - د دې مقالې خواښې برخې دا دي:

**الف:**

لویکان شاهي کورنۍ وه چې په بلتستان او غزني کې د کابل شاهانو سره یې خپلوي وه - د دوی نوم د پښتو "لوی" نه جوړ دی او ژبه یې پښتو وه او قدیم تر لویک و جویر "هجویر" وو چې په ۱۶۰ عیسوی خواوشا کې تېر شوی دی.

**ب:**

د پښتو یو قدیم نظم ویونکی لویک شاعر چې خانان لویک وُو او د کابل د رخنجل پادشاه معاصر وُو - په ۱۶۳ھ خواوشا کې ژوندی وُ - ذی هم لکه د امیر کروړ د پښتو قدیم شاعر او د دغه هم عصر وه.

**ج:**

د لویکانو کورنۍ د سبکتګین د لاسه په ۳۱۵ عیسوي کې ختمه شوه.

4- په "رګ وید" نومې کتاب کې د پښتون ذکر

راغلي دي - دا کتاب په ۱۷۰۰ قبل مسیح کې یعنې
د نن نه دري زره څلور سوه کاله پخوا لیکلي
شوې دي -

5- یوناني مورخ "هیرودوتیس" په ۴۲۵ - ۳۸۴
کې د پښتنو وطن پکتیکا یاد کړې دې چې
پښتو تري تقریبًا دوه نیم زره کاله زړه
ژبه ثابتیږي -

6- دا خبره هم مشهوره ده چې د سوات په
"تخته" نومې ځائي کې د غاړې په هیرونو خط
موندې شوې دي چې ۶۰۰ ق م کې سوري
خاندان لیکلي دي لکه د پښتو د لیک په
څېر نه کس نه نیغ لیکلې شو - دې
خط ټپ خصوصیت دا دی چې د کوم څیز
په حقله به ئې څه وئیل غوښتل د هغه
په څیر به ئې څه شکل جوړ کړو لکه د
بابل سومیرې ژبې د لیکونکو - په دې لحاظ
پښتو په دې علاقه کې ۲۶۰۰ کاله زړه
ده -

7- ښاغلي حبیبي "پخوانئ" نومې مقاله کې چې
د ایران "اریوش" نومې بادشاه د خپل سلطنت
د کارنو، د صداقت، د امن، د انصاف،
د خدائ پاک ستائینې او د دروغو او

Day: Date:

ناپاکۍ نه د بېښاړي بيان د غره په تيګو ليکلې دے چې ۶۲۵ کرښې دي۔ په هره کرښه کې ۲۸ حرفونه دي۔ هر حرف د ۳ نه تر ۵ پورې د مېچې علاماتو نه جوړ دے۔ په دې حساب ټول علامات "۷۵۰۰" دي۔ په دې بيان کې درې د پښتو مصرې په مېخي رسم الخط کې ليکل شوې چې په پښتو رسم الخط کې داسې دي:

نه امريکه ووم
نه دروه زن ووم
نه زور کم ورنے ووم

د دې نه دا معلومېږي چې پښتانه د ايران په قطبي غرنيزه علاقه کې آباد وو او د اترې هم څرګندېږي چې د دغه ورځو کې څه زمانه وړاندې او وروستو مېخي رسم الخط وه چې پښتو ترې تقريباً دوه نيم زره کاله بخوانې ظاهرېږي۔

---

## سوال نمبر 4:

**جواب:**

## پښتو نثر او د هغې ارتقاء:

### نثر څه ته وائي؟

نثر هغه ليکلو ته وائي چې نظم نه وي۔ کټه پوهانو د نثر کښي تعريفونه

Date:

Day:

کړې دي۔

قاضي عبدالحلیم اثر افغاني د نثر تعریف داسې کوي:

"نثر په لغت کې شیندلو، پاشلو او خورولو ته وایي او په اصطلاح کې هغه کلام دے چې د وزن د قید نه خالي او آزاد وي۔"

مشاغلي سید انورالحق د نثر تعریف په دې ډول کوي:

"نثر په اصل کې د عربي ټکی دے او معنی ئې توستل، خورول او شیندل دي۔ او اصطلاح کې معنی د "نظم ضد" دے۔"

څو ادیبانو او عالمانو د نثر دپاره د علمي تعریف دا مقرر کړے دے:

"کلام چې په څه وزن یا بحر کې تړلے نه وي نثر دے۔"

لنډه دا چې نثر روان او عام فهم لیک دے۔ او د نظم ضد دے۔ د نثر جولۍ ارته ده او د خیالاتو اظهار پکې په خلاص مټ کیدیشي۔ عامې خبرې، د اخبار، ټي وي، ریډیو خبرونه، متلونه، سوکړې، ډرامې، نقلونه، لطیفې وغیره داټول نثر دے۔

Date:

## پښتو ادب کې نثر

د پښتو د نثر په معلومو لیکونو کې "د رسالو وړومه" وړومبی نثر ګڼل شي چې د نن نه تقریباً دولس سوه کاله مخکې ابو محمد هاشم د عربۍ په فصاحت او بلاغت ترجمه کړې ده۔ دا لیک اګر چې یو څو پاڼې دي خو د پښتو ادب سرمایه ده۔ له دې نه علاوه "تاریخ سورۍ او د سلیمان ماکو "تذکرة الاولیاء" د پښتو داسې کتابونه دي چې له بده مرغه نمونه یې شته ولې کتابونه نشته۔

د غه وجه ده چې د پیر روښان "خیر البیان" د پښتو نثر وړومبی کتاب ګڼلی شي کوم چې په کتابي شکل کې نن موجود دے۔

## د پښتو نثر ارتقاء:

د پښتو ادب کې زیاته برخه د شاعرۍ ده او په تاریخي حوالې سره شاعري زړه هم ده خو نثر هم په پښتو ژبه کې یوه ښکلې برخه او زوړوالی لري۔

د پښتو نثر ارتقاء په لاندینو څلورو دورونو کې تقسیمولی شي۔

## د پښتو د نثر اولنۍ دور:

د پښتو د نثر د آغاز یا اولنۍ دور په حقله موږ سره

CamScanner

Date:

Day:

ځنې ښکاره معلومات نشته۔ ځکه ئې د لیکوالو په حقله او د نثر پارو په حواله د بحث کولو دپاره ۱۵ اکثر امکاني کلمات "ګیدې شي" استعمال کې راولو۔ پیدا ھم که څه لږ شان خاکه زمونږ وړاندې د ھغه دور په حقله راځي نو ھغه د "پټې خزانې" له برکته راځي۔

"پټه خزانه" د "محمد ھوتک" د اسې تالیف دے چې د اولنې دور د تاریخ په حقله زمونږ لره ھیڅ لار ښودنه کوي۔ د نثر اولنې دور په ۲۲۳ھ نه تر ۹۰۰ھ پورې رسي۔ دے کې چې د کومو نثر لیکونو برخه ده ھغوی کې ابو محمد ھاشم سروانی، سلیمان ماکو، محمد بن علي البستي، احمد بن سعید، شیخ ملي او خان کجو شامل دي۔

د "پټې خزانې" د مؤلف تر مخه د نثر باقاعده آغاز ھاشم سروانی د خپل کتاب "د سالوو ږمه" نه کړے دے۔ دې کتاب کې ئې د عربو فصاحت او بلاغت بیان کړے دے خو تر اوسه دا کتاب تر لاسه شوے نه دے۔ د دے دور دویم کتاب د سلیمان ماکو "تذکرة الاولیاء" دي۔ چې په ۶۱۲ھ کې د شاعرانو یوه تذکره لیکلې ده۔ د دې کتاب یو څو پاڼې تر لاسه شوې دي۔

Day: Date:

→ په نثر د عربي او فارسي اثر غرق وه ځکه چې د هغه وخت لیکوال ښه عالمان وو ـ

## د پښتو نثر دوېم دور :

د پښتو د نثر دوېم دور کې لکه د اولني دور د امکاني ګماتو نه کار نه شي اخستل بلکه سړے په یقین سره ویلے شي چې د نهمي او یولسمي صدۍ هجري تر مینځه کوم لیکوال دي او کوم تخلیقي اثار ئې دي ولې چې د هغه کتابونه زمونږ په وړاندې دي ـ د دوېم دور په سرو لیکوالو کې چې کومې دوا نامې راځي هغه د بایزید انصاري او اخون درویزه بابا دي ـ دې دور ته د نثر فني دور هم ویلے شي ـ د دے دور په لیکونو د عربي او فارسي اثر زیات دے ـ

## خصوصیات :

i- د پښتو ادب د دوېم دور د کمو خصوصیاتو نه یو خصوصیت دا دے چې د ساده او آسان نثر ځائ فني او مشکل نثر او نیولو په نثر کې د وزن التزام لازمي ګڼلے شو ـ

ii- په دے دور کې د موضوع په لحاظ نثر کې تصوف، اخلاق، مذهب او نور ګڼ موضوعات ځائ شول ـ او پښتو نثر کې وسعت پیدا

Day:

شو۔

iii - د مذهبي او اخلاقي کتابونو نه علاوه په دې دور کې د تاريخ په موضوع هم کتابونه وليکلې شول۔

# د پښتو نثر دريم دور:

د پښتو نثر دريم دور د يولسم صدي هجري نه تر دولسمې صدۍ هجري پورې خور دے۔ دا دور د پښتو نثر دپاره ډير اهميت لري۔ دې دور کې په شعوري توګه د پښتو په ادب کې داسې آثار رانښکاره شول کوم چې د دې نه مخکې نه وو۔

## خصوصيات:

① په دے دور کې مذهبي افکار په پوره توګه پښتو ادب ته راورسيدل چې نظم او نثر دواړه کې په نظر راځي۔

② د دے نه علاوه د عربي ژبي تکي هم پښتو ته د ټول نه لپاره راننوتل۔

③ د خټکو کورنۍ د کوششونو په وجه عام خلق پښتو ادب سره اشنا شول۔ او د رښاني او د ليک سره د خلقو شوق پيدا شو۔ په دے دور کې د عربي او فارسي کتابونه پښتو

ته ترجمه شول۔

④ لنډه دا چې د نثر دریم دور کې پښتو نثر د نظم سره اوږه په اوږه رواں شو۔ او په ادبي، تاریخي او نورو ګڼو موضوعاتو باندې کتابونه ولیکلې شول۔ پښتو نثر دائره لا ډېره فراخه شول۔

## د پښتو نثر څلورم دور: (جدید دور)

شلمې صدۍ ته د پښتو نثر څلورم دور یا جدید دور ویلې شي۔ په دې دور کې پښتو خپل عروج ته ورسیده او په بین الاقوامي سطح باندې پېژندلې شوه۔ سیاسي او تمدني انقلاب په پښتو نثر کې هم لوی انقلاب راوستو۔ د نثر لمن دومره فراخه شوه چې یکې په هر اړخ باندې لیکل اشوه۔ په دې دور کې ناول نګاري شروع شوه او د تذکره نګارۍ باقاعده آغاز وشو۔ د نثر جدید دور د پښتو ادب او نثر د ټولو نه ترقي یافته دور دے۔

## د زوړ او نوي نثر خصوصیات:

### د زوړ نثر خصوصیات:

① زوړ نثر باندې د نظم

اثرات افعی خطاري - بعضې وخت د اثر
دومره غالب وي چې نثر بیخي نظم ښکاري

(2) په زوړ نثر کې د فارسي او عربي ژبو
استعمال ډېر زیات دی -

(3) د علاقائي ژبې په زوړ نثر ډېر اثرات
دي - بعضې وخت پرې د بلې علاقې پښتانه
نه پوهیږي -

(4) د خیر البیان او مخزن اسلام دواړو کتابونو
کې د لیکوالو اولنی مقصد د قوم اصلاح وه
دغه وجه ده چې د دې دور په نثر کې
اصلاحي رنګ غالب دی -

## د نوي نثر خصوصیات:

(1) په نوي نثر باندې
د نظم اثرات ختم شول - نثر او نظم
دواړه د یو بل د اثر نه آزاد شول - او
اوس په ازاده روان شول -

(2) په زوړ نثر باندې د فارسي او عربي اثرات
ډېر وو ولې په نوي نثر د اثرات ډېر
کم شول - په نوي نثر کې صرف هغه
الفاظ استعمالیږي چې د پښتو ژبې مستقله

Day:

Date:

حصه دره -

③ د نوي نثر بانډې د علاقائي لهجو اثرات ډېر کم دي - او په نوي نثر کې د لهجې په لحاظ سره یووالی او یکسانیت ښکاري -

④ د زوړ نثر په مقابله کې په نوي نثر بانډې د ګرامر او پښتو ادب د نورو د نورو ژبو د ادب سره مقابله کې وړ دیدو -